مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۸/۰۳

# ماشینونه

## قصه په سلو ټکو کې

ټوله شپه ئې د فابریکې د ماشینونو تر شور لاندې چوپ کار وکړ. د وقفې پر مهال ئې د کارخانې له کانتینه هیڅ ونه خوړل، غوښتل ئې څو روپۍ وسپموي چې ماشومان ئې په ښوونځي کې د رېړۍ شور نخود وخوري. سهار وختي ئې خپله شپنۍ مزدوري واخیسته، برشته ډوډۍ او د غوا شیدې ئې رانیولې، او کور ته پیاده روان سو.

د ستړیا له درنو هډوکو سره خوني ته ولاړ، لا ئې سترګې نه وې پټې، چې د مشر زوی ږغ ئې واورېد:

«هره ورځ دا شیدې، دغه ډوډۍ... نې خورم! پیسې راکه له کانیتنه کېک او جوس اخلم.»

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ